بسم الله الرحمن الرحيم

# د امت پر علماوو د فلسطین سپېڅلې خاورې غږ

(ژباړه)

د الله سبحانه و تعالی ستاینه کوو چې خپل حق ذات یې تاسو ته دروپېژانده او په دې توګه یې تاسو په امر او نهي او تدبیر کې یووالی او وحدانیت درک کړ. هغه ذات چې د وحې او خپل دین رسالت یې تاسو ته وسپاره او له دې سره د پیغمبرانو وارثان ونومول شوئ. نو پکار ده چې تاسو تر بل هر چا ډېر له الله سبحانه وتعالی څخه وویرېږئ، رښتیا ووایئ او د الله په لار کې د هېڅ ملامتوونکي د ملامتۍ پروا ونه کړئ.

موږ شاهدي ورکوو چې له الله سبحانه وتعالی پرته بل معبود نشته؛ هېڅ شریک نه لري او محمد صلی علیه وسلم د هغه بنده او رسول دی. په کومه شاهدۍ چې له الله، د هغه له رسول او مومنانو سره بیعت کوو؛ په هغې له کفارو، منافقانو او خاینانو انکار کوو. د ستاینې وړ هغه ذات دی چې د ټولو عالمیانو رب دی!

موږ پر تاسو د رسول الله صلی الله علیه وسلم له سپېڅلې خاورې غږ کوو او دا چې د الله سبحانه و تعالی د دین قهر زموږ له لوري د فوران په حال کې دی. ښایي په تاسو کې مو د عزالدین بن عبدالسلام معنویت لیدلی وي چې مصر او د هغه لښکر یې د الله په لاره کې جهاد ته راوباله او په عین جالوت کې یې تاتاریانو ته ماتې ورکړه.

**ستا پر دین څه شوي!؟**

که تاسو د فی سبیل الله جهاد لپاره د اسلامي امت او د هغه د پوځونو بسیجولو لپاره حرکت نه کوئ؛ نو ستاسو کار څه دی!؟

**اسلامي امت ډلې ډلې راوتلی؛ تاسو هم ورسره یو ځای شئ او د لاسپوڅو رژیمونو د نسکورولو لپاره حرکت وکړئ او په فی سبیل الله جهاد او جګړه کې خپل پوځونه سره یو ځای کړئ.**

**اې د الازهر علماوو:**

الله سبحانه وتعالی د مصر عسکرو ته عزت ورکړ او د هغوی په لاس یې بیت المقدس د صلیبیانو له خباثته پاک کړ او الله سبحانه وتعالی یو ځل بیا هغوی ته پر تاتاریانو د برلاسي کېدو عزت ورکړ. دعا کوو چې الله سبحانه وتعالی یو ځل بیا د مصر عسکرو ته عزت ورکړي چې د سپیڅلې خاورې پر لور حرکت یې د اسلام او مسلمانانو د بریا، عزت او ځواکمنتیا او د هغو کسانو د شړلو پیلامه شي چې (ستاسو) قهر او غوسه یې راپارولې. **نو، د مصر پوځ د فی سبیل الله جهاد پر لور بسیج کړئ. دا د صالحانو لار ده.**

**اې د شرق او غرب اسلامي علماوو:**

د مسلمانانو حکام د امریکا او غرب لاسپوڅي دي او موږ د خیر تمه نه ترې لرو. هغوی د یهودي دولت وفادار ساتونکي او د امریکایي ګټو مدافعین دي. دومره ذلیل او سپک دي چې تر اوسه د غزې مسلمانو وروڼو ته د مرستې رسولو لپاره د امریکا او یهودي دولت اجازې ته په تمه دي. **هغه څوک چې د امت د دښمنانو له اجازې پرته یوه ټوټه ډوډۍ امت ته نه شي رسولی؛ موږ ته کوم ویاړ او وقار راوړلی شي!؟**

نن ورځ اسلامي امت ستاسو داسې وینا ته اړتیا لري چې عزم یې ثابت او پیاوړی کړي؛ هغه وینا چې د الله سبحانه وتعالی کلام پکې ځرګند وي:

**[الَّذِينَ قَالَ لَهُمُ النَّاسُ إِنَّ النَّاسَ قَدْ جَمَعُوا لَكُمْ فَاخْشَوْهُمْ فَزَادَهُمْ إِيمَاناً وَقَالُوا حَسْبُنَا اللَّهُ وَنِعْمَ الْوَكِيلُ]**

**ژباړه:** «هغه کسان چې خلکو (منافقانو) ورته وویل: ستاسو (دښمنانو ستاسو پر ضد لویې لښکرې راغونډې کړې دي)، ورڅخه وویرېږئ. نو د دې په اوریدو یې نور هم ایمان پیاوړی شو او ویې ویل: زموږ لپاره الله سبحانه وتعالی کافي دی او هغه ښه ملاتړ کوونکی او وکیل دی.» [آل عمران:۱۷۳]

**[يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا مَا لَكُمْ إِذَا قِيلَ لَكُمُ انْفِرُوا فِي سَبِيلِ الله اثَّاقَلْتُمْ إِلَى الْأَرْضِ أَرَضِيتُمْ بِالْحَيَاةِ الدُّنْيَا مِنَ الْآخِرَةِ فَمَا مَتَاعُ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا فِي الْآخِرَةِ إِلَّا قَلِيلٌ * إِلَّا تَنْفِرُوا يُعَذِّبْكُمْ عَذَاباً أَلِيماً وَيَسْتَبْدِلْ قَوْماً غَيْرَ كُمْ وَلَا تَضُرُّوهُ شَيْئاً وَاللهُ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ]**

**ژباړه:** «اې هغه کسانو چې ایمان مو راوړی! پر تاسو څه شوي کله چې تاسو ته وویل شي: د الله په لاره کې د جهاد لپاره حرکت وکړئ، (نو) سستي کوئ او دنیا ته ترجیح ورکوئ؟ ایا تاسو دنیاوي ژوند ته پر اخروي ترجیح ورکوئ؟ نو د اخرت پر وړاندې د دنیایي ژوند ګټه ډېره کمه ده * که تاسو د جهاد لپاره ونه وځئ (نو) هغه (الله) به تاسو ته ډېر دردوونکی عذاب درکړي او ستاسو پر ځای به بل قوم راولي او تاسو به الله ته هیڅ زیان و نه شئ رسولی، الله په هر څه قادر دی.» [توبه:۳۸-۳۹]

**اې رباني علماوو:**

تاسو د بيت المقدس ازادولو او د اسلام او مسلمانانو د ملاتړ لپاره د فی سبیل الله جهاد د حکم په اړه تر ټولو ډېر پوه یئ. **نو ولې حقیقت نه وایئ!؟ ایا له لاسپوڅو حکامو وېرېږئ!؟**

**[فَاللهُ أَحَقُّ أَنْ تَخْشَوْهُ إِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِينَ]**

**ژباړه:** « الله د دې ښه حقدار دی چې ورڅخه ووېرېږئ، که تاسو مومنان یئ» [التوبه:۱۳]

تاسو ته ښه معلومه ده چې لاسپوڅي حکام د الله سبحانه وتعالی په نازل شویو احکامو حکم نه کوي او د اسلام د دښمنانو په امر یې پر اسلامي امت بېلابېل ذلتونه راوستلي؛ د اسلامي امت او پوځونو مخه یې نیولې او د مصنوعي پولو -چې استعمارګرو رامنځته کړې- له لارې یې د اسلامي امت ترمنځ تفرقه رامنځته کړې. **نو په داسې حالت کې تاسو څه کوئ؟ ځواب راکړئ، د الله د رضا لپاره څه کوئ؟**

تاسو نه پوهیږئ، چې د لاسپوڅو حکامو لخوا د فلسطین د قضیې لپاره د دوو-دولتونو حللارې غوښتنه یا په دې برخه کې د نړیوالو قوانینو پلي کول له الله سبحانه وتعالی، رسول الله او مومنانو سره خیانت دی او په سپېڅلې خاوره کې د یهودي دولت د تاسیس معنی لري!؟ نو د هغوی خیانت سخت وغندئ.

د غزې خلک د اسلامي امت درملو او خوراکي توکو ته په تمه نه دي. د فلسطین خلک د دوو-دولتونو حللاره او د نړیوالو قوانینو پلي کول نه غواړي؛ بلکې هیله لري چې د مسلمانانو پوځونه د مسجدالاقصی پر لور حرکت وکړي او د هغو الوتکو غږونه واوري چې د یهودو جرړې وباسي او د ځمکې پر مخ یې هېڅ نښه پرې نه ږدي.

**درنو علماوو:**

**زموږ تويي شوي وينې او بې‌ځايه شوي ښځې او ماشومان د خدای په مخ کې ستاسو پر وړاندې دليل دی؛ نو له الله سبحانه و تعالی سره د مخامخ کېدو لپاره خپل حجت تيار کړئ...**

موږ تاسو ته د هغه څه پر لور بلنه درکوو چې الله سبحانه و تعالی درباندې فرض کړي؛ د راشده خلافت د تاسيس او د بيت المقدس د ازادولو لپاره له اسلامي امت او د هغه له پوځونو نصرت وغواړئ. که تاسو پر ځمکه د الله سبحانه وتعالی د حاکميت ټينګولو، ملي پولو ماتولو او في سبيل الله جهاد لپاره اسلامي امت راپورته کړئ؛ نو د الله سبحانه وتعالی له وعدې او د هغه د رسول الله صلی الله عليه وسلم له زيري سره سم به ستره بريا ترلاسه کړئ. د جهاد پر لور بلنه له رباني علماوو سره ښايي. په تاسو کې چې څوک ډارن وي او په دنيوي ژوند کې امن غوره کړي؛ د الله سبحانه وتعالی بې پايه غضب يې په تمه دی او الله سبحانه وتعالی ته يوه ذره زيان هم نه شي رسولی.

**وروستۍ خبره دا چې:** موږ پر الله سبحانه وتعالی ډېر توکل او باور لرو. موږ د قادر او قوي الله پر نصرت باور لرو؛ الله سبحانه وتعالی به موږ ته نصرت او مرسته راکړي؛ ځکه نصرت يوازې له هغه سبحانه وتعالی سره دی او هغه سبحانه و تعالی به نصرت هغو بنده‌ګانو ته ورکړي چې اهل يې وي. نو څوک چې وغواړي په دغې ډله کې وي؛ ستره بريا يې ترلاسه کړې او څوک چې ډارن وي؛ له نهيلۍ او زيان پرته بل څه نه ورته رسېږي او دنيا او اخرت به له لاسه ورکړي. زموږ دښمنان که هر څومره ځواکمن وي؛ يو محدود ځواک دی. موږ هغوی ته د هېڅ په سترګه ګورو؛ ځکه چې موږ د الله سبحانه وتعالی پر نامحدود ځواک باور او تکيه لرو. پرېږدئ چې امريکا خپلې الوتکې لېږدونکې کښتۍ راوړي؛ که د الله سبحانه وتعالی وعده پوره شي؛ دا تجهيزات يهوديان د مسلمانانو له منګولو نه شي ژغورلی او هېڅ ګټه نه شي ورته رسولی.

[**فَإِذَا جَاءَ وَعْدُ الْآخِرَةِ لِيَسُوءُوا وُجُوهَكُمْ وَلِيَدْخُلُوا الْمَسْجِدَ كَمَا دَخَلُوهُ أَوَّلَ مَرَّةٍ وَلِيُتَبِّرُوا مَا عَلَوْا تَتْبِيراً**]

**ژباړه:** «بيا کله چې د دويمې وعدې وخت راغلی، نو موږ نور دښمنان پر تاسو مسلط کړل چې هغوی ستاسو څېرې غمجنې کړي او مسجد (الاقصی) ته ننوځي، لکه څنګه چې اول ځل ننوتلي وو او (يو ځل بيا د بيت االمقدس په ورانولو پيل وکړي) پر هر څا او هر شي چې د هغوی لاس بر شي تباه يې کړي.» [اسرا: ۷]

دا هغه څه دي چې الله سبحانه وتعالی او د هغه رسول صلی الله علیه وسلم یې له موږ سره وعده کړې او الله سبحانه وتعالی او د هغه رسول صلی الله علیه وسلم په خپله وعده کې ریښتیني دي. الله سبحانه و تعالی زموږ او هغو کسانو لپاره کافي دی چې پر هغه سبحانه و تعالی توکل کوي.

یا الله، موږ علماوو ته د هغه څه په اړه خبر ورکړ چې ستا رضایت پکې دی. یا الله، موږ ته د نصرت او قوت؛ چې زموږ د خوښۍ او رضایت سبب کېږي، زیری راکړه. الحمدالله رب العالمین

**۱۴۴۵هـ.ق کال، د ربیع الاول ۳مه**

**۲۰۲۳ م کال، د اکتوبر ۱۸مه**

**حزب التحریر - د فلسطین سپېڅلې خاوره**